# د افغانستـــــان اســـــلامي امارت
## د ارشــــاد، حج او اوقافو وزارت
## د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست
## د ارشــــاد او دعوت آمريت
## د خطبو د تنظيم عمومي مديريت

**د جمعې د خطبې لارښود مؤرخ: ۱۴۴۳/۶/۲۴هجری قمری مطابق۱۴۰۰/۱۱/۸هجری شمسی**

# د اســـلامي ټــولنې ځـــانګــړتيـــاوې

الحمدلله رب العالمين والعاقبة للمتقين ولا عدوان إلا على الظالمين والحمد لله الذى أرسـل الرسـل و أنزل الكتب ليحق الحق ويبطل الباطل ولوكره المجرمون، وأشـهد أن لآ إله إلاالله من اعتصـم به حماه ووفاه ومن أعرض عنه وعصـاه أهلكه وأرداه، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله الذي بلغ الرسالة وأدى الأمانة ونصح الأمة وجاهد فى الله حق جهاده فمن أطاعه فقد اهتدى و من عصى فقد ضل وغوى، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم اجمعين. امابعد:

هره ټولنه ځان ته څه ځانګړتياوې لري خو اسـلامي ټولنه داسـې ځانګړتياوې لري چې د نړۍ په نورو بشـري ټولنو کې نه پيدا کيږي ؛ ځکه اسـلامي ټولنه هغه ټولنه ده چې رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم ددې ټولنې داسـاس ډبره په خپلو مبارکو لاسـونو کيښـودی ده او د مکې څخه مدينې منورې ته دهجرت پر مهال يې د اسـلامي ټولنې اصـول او مقاصد خلکو ته په عمل کې پياده کړل چې په حقيقت کې اسلامي ټولنه د خلکو د حقه حقوقو ساتندويه ټولنه ده.

په قرآن کريم او د پيغمبرصلى الله عليه وسلم په سنتو کې او د صحابه کرامو په سيرت کې داسلامي ټولنې ځانګړتيا وې بيان شـوي دي چې که چيرې مونږ ورته متوجه شـو او په خپل ژوند کې يې عملي کړو ددنيا او آخرت نيکۍ او خوښي به مو برخه شي . د اسلامي ټولنې ځانګړتياوې بې شميره دي، ځينې يې په لاندې ډول دي:

**۱-اسلامي ټولنه پر ايمان ولاړه ټولنه ده:**

ددې معنا داده چې اسلامي هغه ټولنه ده چې وکړي يې پر الله تعالى کلک ايمان او باور لري او دا لويه نيکبختي بولي او د ژوند په ټولو کړنو کې ځان په شريعت مکلف ګڼي او په دې عقيده لري چې الله تعالى رزق ورکونکی، مدبر، او پرهرڅه قادر ذات دی او عزت او ذلت دالله تعالى په لاس دی او ټول مخلوق الله تعالى ته محتاج دي او مونږ دالله تعالى عبادت کوو او دهغه حکمونو ته تابع يو.

الله تعالى په سورت الانعام کې فرمايلي دي: (ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ). الانعام: (۱۰۲)

دا هغه ځانګړتياده چې په نورو ټولنو کې شتون نه لري په نورو ټولنو کې څوک د واحد ذات په عبادت او بندګۍ باور نه لري بلکې ډول ډول مفکورې په کې شته او څوک په چا کار نلري چې په داسې ټولنو کې هيڅ اطمينان او روحي ارامي نه وي.

په اسلامي ټولنه کې ايمان د ژوند په ټولو برخو کې رغنده رول لري، فردي او ټولنيز او معاملات د ايمان په تله تلل کيږي .

**۲-اسلامي ټولنه په ديني وروروګلوۍ سره تړلې ده:**

اسلامي ټولنې افراد يو له بل سره د ايمان په رسۍ تړل شوي دي او په خپلو منځو کې لکه د سکه ورونو په خير مينه، محبت لري او يو له بل څخه ځان جدا نه ګڼي ځکه چې اسلام هر ډول تفرقه او بې اتفاقي حرامه کړې ده.

الله تعالى په سورت الروم کې فرمايي:(وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ٠ مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ) الروم: (۳۲)

همدا راز الله تعالی په یووالي امر کړی دی او فرمایلي یي دي: { وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ وَاذْكُرُواْ نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاء فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىَ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ} (آل عمران:۱۰۳)

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته ورسیده د مسلمانانو ترمنځ یي د اسلامي ورورګلوۍ پیمان وتړلو ترڅو هغه کینې او دښــمنۍ چې د جاهلیت له زمانې را پاتې وې له منځه لاړې شـــي او همداغه ؤ چې ټول مسلمانان یو له بل سره وتړل شو او ټولې کینې په ورورګلوۍ تبدیل شوی.

همدا راز په اسلامي ټولنه کې کورنۍ شتون لري چیرته چې پلار ، مور ، ورونه او خویندې په کې را ټول وي او یو له بل سره د ژوند په کارونو کې مرسته او همکاري کوي، مور او پلار د اولادونو سالمه تربیه کوي او اولادونه د مور ، پلار او د کورنۍ د مشرانو قدر او درناوی کوي. برعکس په موجوده ټولنو کې داسې غښتلی کورنۍ شتون نه لري؛ بلکې د کورنۍ غړي د موقت وخت لپاره یو له بل سره موجود وي.

**۳ـ اسلامي ټولنه همکاره او مهربانه ټولنه ده:**

د نورو ټولنو په نسبت د اسلامي ټولنې یوه ځانګړتیا داده چې په اسلامي ټولنه کې مهرباني، ایثار، فداکاري، محبت او مینه موجوده وي، چې دا ځانګړتیا په نورو ټولنو کې شتون نه لري. دا ځکه چې داسلامي ټولنې اصول او قواعد الله تعالی تأسیس کړی دي او داسلامي ټولنې وګړو ته یي امر کړی دی چې یو له بل سره مرسته وکړئ، د یتیم پالنه وکړئ، د فقیر او بیوزله سره مرسته وکړئ، کونډې او اسیر سره همکاري وکړئ او په خپلو منځو کې مهربانه، مینه ناک اوسئ ؛ ترڅو ژوند مو ښکلی شي او په خپلو منځو کې یو پر بل ظلم مه کوئ.

الله عزوجل فرمایلي دي: {وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلا تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ}المائدة: (۲)

الله تعالی فرمایلي دي:{ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ } الفتح:(۲۹)

په یو قدسي حدیث کې رازي الله تعالی فرمایل دي: (يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي، وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا، فَلَا تَظَالَمُوا) متفق علیه

همدا راز پیغمبرعلیه السلام د اسلامي ټولنې وګړي هڅولي چې په خپلو منځو کې له مهربانی ، دوستی او احترام څخه کار واخلي. په یو حدیث کې شریف کې راځي: « مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَيَعْرِفْ حَقَّ كَبِيرِنَا فَلَيْسَ مِنَّا ». سنن أبی داود-ن

**ترجمه:** څوک چې زمونږ په کوچنیانو رحم نه کوي او زمونږ او دمشرانو حق نه پیژني زمونږ له ډلی څخه نه دی.

په یو بل حدیث شریف کې راغلي دي: (المُسْلِمُ أَخُو المُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ، وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً، فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ القِيَامَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ). متفق علیه

**ترجمه:** یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، ظلم دې ورباندې نه کوي او دښمن ته دې نه سپاري. څوک چې د مسلمان ورور په حاجت کې وي الله تعالی به دده حاجتونه پوره کړي او چاچې د مسلمان څخه یوه سختي لری کړه الله تعالی به دده څخه د قیامت سختیانې لری کړي او چاچې په مسلمان باندې پرده واچوله په آخرت کې به الله تعالی په ده باندې پرده واچوي.

امام ابن بطال د بخاری په شرح کې لیکلي دي:(فی هذه الأحادیث الحض علی استعمال الرحمة للخلق کلهم کافرهم ومؤمنهم ولجمیع البهائم والرفق بها). شرح صحیح البخاری ـ

**ترجمه:** په دې حديثونو کې هڅونه ده دې ته چې په ټولو مخلوق باندې بايد رحم وشي ، کافر باندې ، مؤمن باندې او په ټولو حيواناتو باندې هم بايد مهرباني وشي.

**۴-اسلامي ټولنه له هر ډول اخلاقي پستيو څخه پاکه ټولنه ده:**

اسلامي ټولنه په عالي اخلاقو سمباله ټولنه ده چې هيڅ ډول ناکاره او پست اخلاق په کې ځای نه لري. په اسلامي ټولنه کې هر هغه کار چې داسلامي شريعت سره په ټکر کې وي او يا يې سالم فطرت نه مني ځای نه لري لکه: زنا ، بې حجابي، د بيګانه ښځو او نرانو ترمنځ مختلط ژوند، د ښځو او نارينه له خوا يو له بل سره مشابهت کول، ، د فسق کارونه کول، نا محرمو ښځو ته کتل، پرته له محرمه سفر کول، د شرابو او نورو نشه يي توکو استعمال، د لهو ولعب کړنې، د حيواناتو جنګول او مارغانو تحريشول او داسې نور.

الله جل جلاله فرمايلي دي: {وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا} الاسراء: (٣٢)

همدا راز الله تعالی له ټولو بدو کړنو او ويناؤ څخه د اسلامي ټولنې وګړي منع کړي دي. {وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ} الانعام: (١٥١)

پيغمبرعليه السلام فرمايلي دي: (مَا مِنْ أَحَدٍ أَغْيَرُ مِنَ اللَّهِ، مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ حَرَّمَ الفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ). صحيح البخاري-نسخة طوق النجا

**ترجمه:** هيڅوک له الله تعالی زيات غيرتي نشته د همدې وجه نه يې بدکارونه حرام کړي دي که هغه ښکاره دی او که پټ.

**۵-اسلامي ټولنه د امن ټولنه ده:**

امن او امنيت د ژوند ضرورت دی او پرته له امنيت څخه ژوند مشکل دی . اسلامي ټولنه د امن ټولنه ده او په اسلامي ټولنې خلک ټول د روحي او جسمي امنيت، اطمينان او سکون څخه برخمن دي.

په اسلامي ټولنه کې د خلکو ځان، مال، عقل او ناموس د هر ډول تيري څخه مصئون دی.

پيغمبرعليه السلام فرمايلي دي: ( الْمُؤْمِنُ مَنْ أَمِنَهُ النَّاسُ عَلَى أَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ). سنن النترمذی

**ترجمه:** کامل مؤمن هغه دی چې خلک يې د خپلو ځانونو او مالونو په اړه امين وګڼي.

په يو بل حديث شريف کې پيغمبرعليه السلام فرمايلي دي: (خَيْرُكُمْ مَنْ يُرْجَى خَيْرُهُ وَيُؤْمَنُ شَرُّهُ وَشَرُّكُمْ مَنْ لَا يُرْجَى خَيْرُهُ وَلَا يُؤْمَنُ شَرُّهُ) مسند أحمد – الرسالة

**ترجمه:** په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې د خير اميد ورڅخه کيږي او له شر څخه يې خلک په امن کې وي او تاسو کې بد هغه څوک دی چې د خير اميد ورڅخه نه کيږي او له شر څخه يې خلک په امن کې نه وي.

**۶-يو بل ته په نيکی امر کول او له بديو څخه منع کول:**

اسلامي ټولنه په نورو ټولنو ددې امله غوره ده چې په اسلامي ټولنه کې د ټولنې څخه د مرضونو، د اخلاقي فسادونو او جرومونو د کمولو په هدف ددې ټولنې افراد د خيرغوښتونکی په پار يو بل ته په نيکيو نصيحت کوي او له بديو يې را ګرځوي چې دا ځانګړتيا يواځې د اسلامي ټولنې ده.

الله تعالی فرمايلي دي: {كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ} آل عمران: (١١٠)

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی: ( مَنْ رَأى مِنْكُمْ مُنْكَراً فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ ، فَإنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ ، فَإنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ ، وَذَلِكَ أضْعَفُالإيمَانِ ) رواه مسلم .

**ترجمه:** څوک چې يو منکر ويني هغه دې په لاس سره منع کړي که چيرې دايي په توان کې نه وي هغه منکر دی په ژبه باندې منع کړي که چيرې دا يې په توان کې نه وي په زړه کې دی هغه بد وګڼی او دا ترټولو کمزوری ايمان دی.

**۷-اسلامي ټولنه دجهاد او مبارزې ټولنه ده:**

داسلامي ټولنې ځانګړتیا داده چې اسلامي ټولنه د الله تعالی په لاره کې د جهاد او مبارزې مسئولیت په غاړه لري.
ددې ټولنې په شرطونو پوره کسان باید هر وخت ددې اراده ولري چې د اړتیا په صورت کې د کفارو سره د مسلح جهاد او مقابلې لپاره اماده وي او په دې نیت سره یې لوی اجر ور په برخه کیږي.
الله تعالی فرمایلي دي: {كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَكُمْ} البقرة: (۲۱۶)

**۸- دسختو او مشقت باره حکمونو څخه خالي:**

اسلامي ټولنه ، هغه ټولنه ده چې ددې ټولنې له ذمې څخه الله تعالی هغه طاقت پرسا او له مشقت ډک حکمونه لري دي چې په تیرو امتونو باندې مقرر ؤ. الله تعالی فرمایلي دي:{يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ}البقرة:(۱۸۵)
په یو بل آیت کې فرمایي:{ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ}الحج: (۷۸)

**۹-اسلامي ټولنه هیڅکله د ګناه په کار باندې نه راجمع کیږي:**

د اسلامي ټولنې په ځانګړتیاؤ کې دا هم ده چې اسلامي ټولنه هیڅکله په داسې کار باندې اتفاق نه کوي چې هغه د معصیت او ګناه کار وي او الله تعالی اسلامي ټولنه دداسې خطا څخه ساتلې ده.
په یو روایت کې چې امام حاکم روایت کړی دی راځي: «لَا يَجْمَعُ اللَّهُ أُمَّتِي عَلَى الضَّلَالَةِ أَبَدًا» المستدرك
**ترجمه:** الله تعالی زما امت هیڅکله په ګمراهۍ نه جمع کوي.

**۱۰-اسلامي ټولنه میانه رو او معتدله ټولنه ده:**

د اسلامي ټولنې له ځانګړتیاؤ څخه دا هم ده چې اسلامي ټولنه وسط ، میانه رو او معتدله ټولنه ده . دا دالله تعالی حکم دی چې عدالت په ټولنه کې پیاده کړئ او د اسلامي ټولنې وګړي یې مکلف کړي دي ترڅو عادل او میانه رو اوسیږي. الله عزوجل فرمایلي دي : { وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيداً} البقرة: (۱۴۳)
اسلامي ټولنه د نورو ټولنو په شان نه ده چې یا خو د الله تعالی له وجود څخه منکر وي او یا هم د زیاتو خدایانو او الهه ؤ منونکي وي؛ بلکې اسلامي ټولنه د قرآن کریم د هدایاتو او د پیيغمبرانوعلیهم السلام ددعوت په اساس ددې کون خالق یو ګڼي او هغه واحد لاشریک ذات ګڼي. همد اراز د اسلامي ټولنې ټول معتقدات ، عبادات او معاملات، شخصي او اجتماعي کارونه د افراط او تفریط څخه خالي دي. همدا وجه ده چې اسلامي حکمونه د هر وخت، زمان او هرډول شرائطو کې د تطبیق وړ دي او د هر وخت سره سمون خوري.
رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو حدیث شریف کې فرمایلي دي: ( يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِيَّاكُمْ وَالْغُلُوَّ فِي الدِّينِ ، فَإِنَّمَا أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمُ الْغُلُوُّ فِي الدِّينِ). سنن ابن ماجة

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**